مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالعزیز نایبي ۲۰۲۳/۰۱/۱۰

کابل بالاحصار

کابل بالاحصار چې ارګ او پوځي کلا یې هم بولي تر ۱۸۸۰م کال پورې د افغانستان د تاریخ د ډیرو حساسو او زړه بوږنونکو پېښو شاهد و. له دوېمې تر پنځمې میلادي پېړیو پکې د بودایانو عبادتځایونه موجود وو. د ځینو روایاتو له مخې د مقدونیانو له یرغلونو وړاندې، بالاحصار د دې خاورې پلازمېنه وه. دا کلا پنځمه میلادي پېړۍ کې د یفتلیانو د واکمنۍ پرمهال جوړه شوې. د هند مُغل امپراطور بابر، شپاړلسمه میلادي پېړۍ کې دلته ژوند کړی. په هغه دا ځای ګران و، د زینت له پاره یې کار کړی او په شعرونو کې یې ستایلی دی. پاچاهانو پرلپسې له دې ځایه واک چلولی، ماتې یې خوړلې او د تورو تمبو شاته یې بندیان شوي دي. په دغو دورو کې بالاحصار د ګرانبېعه دولتي توکو او نقدو پېسو د ساتلو خزانه هم وه.
کابل بالاحصار له اوارې مځکې لوړ، پر یویې غونډۍ چې لویدیځه څنډه یې د شېردروازې تاریخي دیوال سره نښتی، جوړ شوی دی. د نولسمې پېړۍ پېل کې یو مشاهد، خپل د سترګو لیدلی حال داسې کښلی دی:
»بالاحصار دوې برخې لري: بر بالاحصار او کوز بالاحصار. دا کلا د تېرو کلک دېوالونه لري، پورتنۍ برخې یې له پخو خښتو جوړې شوي دي او یو خندق ترې چارپېر دی. غره سره نښتې برخه

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

کې د «جابر» په نامه یوه دروازه وه، دې ځای کې خندق نه و، پرځای یې د «هلاکو» په نامه لوړ برج جوړ شوی و؛ هغه دېوال چې د احمدشاه بابا د واکمنۍ پرمهال سردارمحمد جانخان جوړ کړی و، پر همدې ځای ختمېږي. د بالاحصار باندني دیوال درې دروازې درلودې: یوه هغه دروازه چې کوز بالاحصار ته وتې وه، ختیځ لور ته د «کاشي» په نامه دروازه او لویدیځ لور(جابر دروازې ته نیږدې) د «خوني» په نامه یوه دروازه وه؛ له هغې به یې د هغو کسانو مړي راوېستل چې د کلا منځ کې اعدامېدل.» (۱)

د سدوزایانو په دوره کې کوز بالاحصار د مانۍ او غلامخانې سربېره، د هستوګنې زر کورونه او یو بازار درلود. ځینې برخې یې د اوسېدونکو په نامه لکه عربان، حبشیان، ارمنیان او داسې نورو نومونو یادېدل. تر هغه وروسته چې تېمورشاه پلازمېنه، له کندهار څخه کابل ته ولېږدوله بیا د امیرعبدالرحمن خان تر واکمنېدو پورې، بالاحصار د افغانستان پایتخت و. انګرېزانو له افغانانو سره د دوېمې جګړې پرمهال (۱۸۷۸-۱۸۸۰م) د بالاحصار دواړه برخې ونړولې او اور یې ورته کړ، یواځې پاخه دیوالونه یې پاتې شول چې بیا وروسته د نادرخان د بادشاهۍ پرمهال، د پوځي زده کړو له پاره پکې نوې ودانۍ جوړې شوې.

سرچینې:

(1) فرهنگ، میر محمد صدیق، افغانستان در پنج قرن اخیر، مشهد: انتشارات درخشش،۱۳۷۱،ج ۱، ص ۳۵۶-۳۵۷.

1.Dupree, Nancy Hatch.,(1977). An Historical Guide To Afghanistan. Tokyo: Japan, Jagra, LTD (p.81,82).

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ